پهٔ 9 جولائي، کال 2026ء (بمطابق اِسلامي تاريخ: 24 مُحَرَّم شريف، کال 1448ھ) د پاکستان
پهٔ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# اخري ساعتونه

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د سبق نه ډک يو څو آيتونه مبارک
- د بادشاهانو عبرتناکې جُملې
- چې شروع يې داسې ده نو انجام به يې څنګه وي
- جَنَّت ته د تللو اسانه نُسخه

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ؕ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ؕ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتكاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

**د اخري نبي، مکي مَدَني** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:**

د قیامت په ورځ به د **الله** پاک د عرش نه سِوا بل یو سیورے هُم نهٔ وي، درې کسان به د **الله** پاک د عرش د سیوري لاندې وي: **(1)**: هٰغه کس څوک چې زما د اُمّتي پریشاني لرې کړي **(2)**: زما سُنّت ژوندي کوونکے **(3)**: په ما باندې کثرت سره درود شریف لوستونکے ـ (1)

| | |
|---|---|
| عاصیو جُرم کی دوا ہے درود | کیا دوا عینِ کیمیا ہے درود |
| حشر کی تیرگی سیاہی میں | نور ہے، شمعِ پُر ضیا ہے درود |
| چھوڑیو مَت درود کو کافیؔ | راہِ جنّت کا رہنما ہے درود (2) |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1...البدور السافرة، بَابُ الْاَعْمَالِ الْمُوْجِبَةِ لِظِلِّ الْعَرْش، صفحه:95ـ

2...کافی کی نعت، صفحه:39 ملتقطاًـ

## د بيان اوريدلو نيتونه

په **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے-[1]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! په ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيَّتونه اوکړو: مَثَلاً ◈ د **الله** پاک د رضا د پاره به تهول بيان اورم ◈ په اَدب به کښينم ◈ ښهٔ په توجُّه به بيان اورم ◈ څهٔ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب!　　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د سبق نه ډک يو څو آيتونه مبارک

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مخکښيني قامونه په کومو باندې چې د **الله** پاک عذاب نازل شو، لکه: ◈ عاد قوم: په هغوئي باندې د طوفان عذاب راغلو، د 7 شپو او 8 ورځو پورې پرله پسې تېزه سيلۍ چليدله، چې د عاد د قوم نوم او نشان يې ختم کړو ◈ په ثمود قوم باندې د زلزلې او د تيزې چغې عذاب راغلو ◈ په لوط قوم باندې د اسمان نه کاڼي راووريدل ◈ نمرود او د هغهٔ په قوم باندې د ماشو عذاب راغلو ◈ فرعون او د هغهٔ قوم په درياب کښې غرق کړے شو-[2]

دا قومونه د کومو چې ما ذِکر اوکړو، دا مخکښې خو ډېر سرکشه وو، د **الله** پاک د اطاعت د پاره په څهٔ طريقه هم نهٔ راضي کيدل، ◈ په غرور او تکبر کښې به يې وئيل:

| مَنْ اَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ؕ (پاره:24، سورۂ حم السجدہ:15) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: مونږ نه زيات طاقتور څوک دي؟ |
|---|---|

1... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1 ـ

2... سيرتِ الانبياء، صفحہ:224-596 ملتقطاً۔

◈چا به وئيل چې دا بس فضول قيصې دي- ◈چا به پهٔ انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام پسې ټوقې کولې، سرکشي به يـې کوله- خو--- کله چې پهٔ دوئي باندې عذابونه راغلل، هٰغه اخري ساعتونه کوم چې د دوئي نصيب شول، د کومو ساعتونو نه پس چې د دوئي نوم او نشان ختم شو، پهٔ هٰغه اخري ساعتونو کښې د دوئي حالت څهٔ وو، د 17 سيپارې، سورهٔ انبيا يو څو آيتونه واورئ! **الله** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَلَمَّاۤ اَحَسُّوْا بَاْسَنَاۤ اِذَا هُمْ مِّنْهَا يَرْكُضُوْنَ ﴿۱۲﴾ (پاره:17، سورهٔ انبيا:12) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو چې کله هغوئي زمونږ عذاب وليدو نو د هغې نه يـې تښتېدل شروع کړل- |

يعني کله چې هغوئي محسوس کړل چې اوس بس عذاب راغلو، د عذاب نخښې يـې وليدلې نو د هغوئي هم هٰغه لوئي لوئي ښکلي کورونه، د هغوئي هٰغه محلونه، د هغوئي باغونه، د مال او دولت ډېرې پهٔ کومو چې به يـې نازونه کول، د هغې نه راووتل او منډې يـې شروع کړې- نو بيا هغوئي ته اواز اوکړے شو:

| | |
|---|---|
| لَا تَرْكُضُوْا (پاره:17، سورهٔ انبيا:13) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: تښتئ مهٔ- |

يعني چرته ځئ---؟ ولې تښتئ؟

| | |
|---|---|
| وَ ارْجِعُوْۤا اِلٰى مَاۤ اُتْرِفْتُمْ فِيْهِ وَ مَسٰكِنِكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْـَٔلُوْنَ ﴿۱۳﴾ (پاره:17، سورهٔ انبيا:13) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او د دې سهولتونو طرف ته راوګرځئ کوم چې تاسو ته درکړے شوي وو او د خپلو کورونو طرف ته (راوګرځئ) کېدے شي چې تاسو نه تپوس اوکړے شي- |

واپس راشئ! ستاسو کورونه، ستاسو مال او دولت، ستاسو باغونه، ستاسو لوئي لوئي محلونه، ستاسو فوځونه، ستاسو طاقتونه هر څهٔ دلته دي، اوس چرته تښتئ---؟ واپس راشئ!

اوس به ستاسو نه پوښتنه کولے شي-

آه! هٔغه سرکشه، هٔغه بد تميزه، هٔغه ګستاخان، کومو چې به د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام سره بد تميزياني کولې، پهٔ اِيمان والؤ پورې به يــې ټوقې کولې، پهٔ خپل طاقت، خپل دولت او خپل شهرت باندې به يــې نازونه کول، نن هغوئي د مخلونو نه تښتي او چغې وهي:

يٰوَيْلَنَآ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿۱۴﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: هئ زمونږه بربادي! بے شکه مونږه ظالــمان وو-

(پارہ:17، سورۂ انبیا:14)

آه! افسوس! دوئي راوېښ شول خو ډېر ناوخته---!! د خپلو ګناهونو، خپلو خطاګانو او ظلم او ستم والا عادتونو اِحساس خو ورته وشو خو افسوس! بيا وخت ختم شوے وو، بيا د هغوئي دا منل د هغوئي هيڅ پهٔ کار رانغلل- **اللّٰه** پاک وفرمائيل:

فَمَا زَالَتْ تِّلْكَ دَعْوٰىهُمْ حَتّٰى جَعَلْنٰهُمْ حَصِيْدًا خٰمِدِيْنَ ﴿۱۵﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو هُم دا د هغوئي چغې او غوغا وه تر دې چې مونږه هغوئي ريبلي شوي، [سوزېدلي] سارۀ شوي کړل-

(پارہ:17، سورۂ انبیا:15)

يعنې دې خلقو پرله پسې چغې وهلې: آه! مونږ ظالمان وو، هئ! مونږ پهٔ خپلو ځانونو باندې ظلمونه اوکړل خو بيا خو عذاب راغلے وو، بيا پهٔ هغوئي باندې عذاب نازل شو او د هغوئي نوم او نشان يــې ختم کړو-

جو بھی مُبتَلائے غرور تھے ، جنہیں زورِ بازو پہ ناز تھا
وہ جو سرکشی پہ ڈَٹے رہے ، کہاں اُن کا نام و نشاں گیا؟
نہ وہ عاد ہے نہ ثمود ہے ، کسے لوط والوں کی ہے خبر

کوئی آندھیوں نے اڑا دیئے ، کہیں زلزلوں میں ہوئے فنا

صَلُّوْاعَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## آه! هُغه اخري ساعتونه---!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور اوکړئ چې دا څنګه څنګه قومونه وو--! پخپله الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| مَكَّنّٰهُمْ فِي الْاَرْضِ مَا لَمْ نُمَكِّنْ لَّكُمْ (پاره:7، سورهٔ انعام:6) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: هغوئي ته مونږ په زمکه هُغه قوت او طاقت ورکړے وو کوم مو چې تاسو لۀ نۀ دے درکړے- |

يعني هغوئي ته په زمکه کښې هُغه طاقت عطا کړے شوے وو، کوم چې مونږ له نۀ دے راکړے شوے ◈ نن زمونږ سره ټيکنالوجي ده ◈ زمونږ سره سائنس دے ◈ د ښه نه ښه مشينونه ◈ د ښه نه ښه آلات موجود دي خو قرآنِ کريم فرمائي: د دې قومونو سره اګر چې ټيکنالوجي نۀ وه، اګر چې سائنسي ايجادونه نۀ وو خو هغوئي له په زمکه باندې هُغه قبضه ورکړے شوې وه کومه چې تاسو له نۀ ده درکړے شوې، هغوئي له هُغه فنونه ورکړے شوي وو، کوم چې تاسو له نۀ دي درکړے شوي، هغوئي ته هُغه اختيارونه، هُغه طاقتونه عطا کړے شوي وو، کوم چې تاسو له نۀ دي درکړے شوي-

تاسو سوچ اوکړئ چې دا به څنګه قومونه وو، د هغوئي به څومره د عېش او عشرت نه ډک ژوند وو، ◈فرعون څومره د عېش او عشرت ژوند تېرولو، ◈نمرود څومره د رعب او دبدبې والا بادشاه وو، ◈شَدَّاد کوم ته چې هُغه خزانه ورکړے شوې وه، د کومې چې نن څوک سوچ هم نشي کولے، ◈قارُون کوم له چې دومره خزانه ورکړے شوې وه، کومه چې مونږ په خوب کښې هم نشو ليدلے- خو آه---!! د هغوئي هُغه اخري ساعتونه---!! څومره

دردناک ساعتونه وو، ځومره د بے وسۍ نه ډک ساعتونه وو، عذاب د هغوئي طرف ته راروان وو او دوئي د هغې نه د بچ کېدو پهٔ کوشش کښې وو، تقريباً د 51 کروړه مربع کلو ميټره زمکه باندې د يو لويشت همره ځائے هم دوئي ته داسې نصيب نهٔ شو، چرته چې دوئي پناه اخستے وے او د عذاب نه بچ شوے وے، ټول طاقتونه، ټولې خزانې، ټول خادمان، ټول محلونه، هر څهٔ هم داسې پاتې شول، نن د دوئي نوم او نشان هم دلته موجود نهٔ دے-

| | |
|---|---|
| تُوخُوشی کے پھول لے گا کب تلک | تُو یہاں زندہ رہے گا کب تلک |
| دولتِ دنیا کے پیچھے تُو نہ جا | آخِرت میں مال کا ہے کام کیا؟ |
| مالِ دنیا دوجہاں میں ہے وبال | کام آئے گا نہ پیشِ ذوالجلال |

## د نیمو سترګو والا خلق

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ د نيم نظر والا خلق يو،مونږه خيز ته پوره نهٔ ګورو،ځومره داسې خلق دي چې د شاهانه ژوند خوبونه ويني ،د چا ګاړے د چا بنګلا،د زرګونو روپو جامې،د لکونو موبائل ،کروړونه بينک بيلنس،شاهانه پروټوکول چې وويني نو ارمان کوي، دننه دننه خپل ځان ته پيغورونه کوي،خپل قسمت ته ردې بدې وائي پهٔ زړهٔ زړهٔ کښې وائي چې کاش ماته هم داسې دولت ميلاو شوے وے،کاش زما سره هم داسې ګاړے وے،کاش زهٔ هم پهٔ محلونو کښې اوسيدلےخو افسوس چې مونږه اخري لمحاتو ته نهٔ ګورو د دنيا لوئي لوئي بادشاهان چې ظالمان او جابران وو،غير مسلمه او ګنهګاران وو د هغوي اخري وختونه څنګه تير شو،ټوله زندګي په عيش او عشرت کښې د تيرولو نه پس پهٔ اخري وخت کښې د خپل عيش وعشرت نچوړ هغوي څهٔ راويستو؟ پهٔ دي زمونږ نظر نه وي، که مونږ په دغه اخري ساعتونو باندي نظر ساتونکي جوړشو نو زمونږ د نيمې نه زيات حسرتونه او ارمانونه خو به هم داسې ختم شي.

# شکر دے چې مونږ بچ شو

تاسو اوګورئ! قارون ته بے شمېره خزانې ورکړے شوې وې، د هغهٔ د خزانو صرف کُنجيانې پهٔ سوؤنو اوښانو باندې بار وې نو سوچ اوکړئ چې خزانه به يـې خومره غټه وه، يو ځل هغهٔ خپلې بهترينې جامې واغوستې، مخکښې وروستو ترې نوکران وو، د خزانو نه بار کړے شوو اوښانو سره ډېر پهٔ شاهانه پروټوکول کښې ښار ته ووتو، پهٔ کوڅو تېرېدو، کوم خلک چې کم ظرفه وو، پهٔ نيمو سترګو يـې خيزونو ته کتل، د هغوئې پهٔ خُلو کښې ورته اوبهٔ راغلې، زړونه يـې پهٔ رشک او ارمان کښې نا قلاره شول، وه يـې وئيل: واه! واه---!! خومره شان او شوکت دے، کاش چې زمونږ هم داسې خزانې نصيب شوے وے-

خو پهٔ بله ورځ چې کله قارون د خپل غرور، تکبر او د ګناهونو پهٔ وجه د خپلو خزانو سره پهٔ زمکه ورننباسلے شو، بيا هُغه رشک کوونکو، پهٔ نيمو سترګو کتونکو، د هغوئې سترګې پوره وغړېدلې، بيا يـې ووئيل:

لَوْلَاۤ اَنْ مَّنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا لَخَسَفَ بِنَا ؕ (پاره:20، سورۀ قصص:82) [مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: که اللّٰه پهٔ مونږ اِحسان نهٔ وے فرمائيلے نو مونږه به يـې هُم پهٔ زمکه راښکلې وے-

يعنې د خُدائے کرم وشو---!! شُکر دے چې زمونږ داسې خزانه نهٔ وه نصيب شوې، ګني نو مونږ به هم پهٔ زمکه ننباسلے شوے وے-(1)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** وګورئ چې کله د اِنسان سترګې پوره وغړيږي، کله چې پهٔ **اخري ساعتونو** باندې هم غور اوکړے شي، نو بيا ارمانونه هم بدل شي، د نظر زاويه هم بدله شي-

---

1...سيرت الانبياء، صفحه:623-619 ملخصًا-

## پۀ مونږ کښې نصيحت، پۀ هغوئي کښې عبرت دے

بِشر بن مَروان يو حکمران وو، د هغۀ چې کله اخري وخت راغلو نو وه يـې وئيل: پۀ خُدائے مې دې قَسم وي! زما زړۀ غواړي چې کاش! زۀ يو حبشي غلام وے، پۀ ټول ښار کښې د ټولو نه خراب حالات زما وے، ما چېلۍ څَرولے، کاش چې زۀ حکمران نۀ وے- کله چې دا خبر حضرت شقيق بلخي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ته ورسېدو نو هغوئي وفرمائيل:

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِی جَعَلَهُمۡ یَفِرُّوۡنَ اِلَیۡنَا وَلَا نَفِرُّ اِلَیۡهِمۡ

**ترجمه:** د خُدائے شُکر دے چې دا خلق پۀ اخري وخت کښې زمونږ پۀ شان د جوړېدو خواهش کوي خو مونږ يو وخت هم د هغوئي پۀ شان د جوړېدو خواهش نۀ لرو-

اِنَّهُمۡ لَیَرَوۡنَ فِینَا عِبَرًا وَاِنَّا لَنَرَی فِیهِمۡ غِیَرًا

**ترجمه:** بے شکه هغوئي پۀ مونږ کښې عبرت او نصيحت مومي، مونږ چې کله د هغوئي حالاتو ته ګورو نو د دُنيا نيرنګي (د بدلېدونکې دُنيا بدلېدونکے رنګ) وينو- (1)

## قبرونه د ټولو يو شان دي

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** دا دُنيا بے وفا ده، چا ته چې مېلاؤ شي نو هغه هم خوري، چا ته چې نۀ مېلاؤېږي نو هغه پۀ طلب کښې اخته کوي او ضائع کوي يـې- ښه او هوښيار هغه دے کوم چې د دې نه مخ واړوي او د **اللّٰه** پاک طرف ته روان شي- تاسو وګورئ چې د دُنيا حقيقت مونږ ته هديرې ته د تللو سره پۀ نظر راځي، عبرتناکه خبره دا ده---!! حضرت مالِک بن دِينار رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: بِشر بن مروان کوم چې حکمران وو، هغه چې وفات شو نو دفن کړے شو، يو څو ورځې پس اَسوَد نومې يو ګَس وفات شو، د هغۀ قبر د بِشر بن مَروان خوا ته جوړ کړے شو- فرمائي: لږه موده پس د هغوئي د قبرونو پۀ خوا

---

1... موسوعه ابن ابي الدنيا، کتاب المتمنين، جلد:2، صفحه:541، رقم:31-

زهٔ تېرېدم، پهٔ دواړو کښې هيڅ فرق نهٔ وو، ما نهٔ پېژندلو چې د بِشر قبر کوم يو دے او د اَسوَد کوم يو دے۔[1]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا د دُنيا حقيقت دے---!! تاسو هديرې ته لاړ شئ! پهٔ خپلو سترګو يې ووينئ! بلکې مونږ يې وينو: ارب پتي هم پهٔ دې خاورو کښې دفن کولے شي، او د دوه وخته ډوډۍ د پاره پرېشانه هم پهٔ دې خاوره کښې دفن کولے شي- اخر هم دغه حقيقت دے-

## د بادشاهانو عبرتناکې جُملې

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د چا چې دا دُنيا نصيب شوه او ښه ډېره يې نصيب شوه، زياته يې نصيب شوه، چا ته چې اختيارونه ورکړے شول، د چا بره ښکته، مخکښې وروستو چې صرف هم دُنيا وه، ټول ژوند يې پهٔ دې دُنيا کښې پهٔ تېرولو، اخر هغوئي د خپل د ژوند د تجربو نتيجه څهٔ راوېستله، نچوړ يې څهٔ راوېستو، لږ پهٔ هٔغه نچوړ باندې غور اوکړئ! ◈ خليفه عبد الملک بن مروان ډېر د شان او شوکت انداز لرونکے بادشاه وو، کله چې د هغه اخري وخت راغلو نو چا ترېنه پوښتنه اوکړه: دا وخت تاسو ځان څنګه محسوسوئ؟ عبد الملک بن مروان ووئيل: بالکل هم هٔغه شان محسوسووم، لکه څنګه چې قرآنِ کريم فرمائيلي دي:

| | |
|---|---|
| وَ لَقَدْ جِئْتُمُوْنَا فُرَادٰى كَمَا خَلَقْنٰكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّ تَرَكْتُمْ مَّا خَوَّلْنٰكُمْ وَرَآءَ ظُهُوْرِكُمْۚ (پاره:7، سورۀ انعام:94) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او بے شکه تاسو مونږ له يواځې راغلئ څنګه چې مونږه تاسو پهٔ اول ځل پيدا کړي وئ او تاسو شا ته پرېښودل هٔغه ټول مال او متاع کوم چې مونږه تاسو له درکړي وو۔ |

---

[1]... موسوعہ ابن ابي الدنيا، کتاب المحتضرين، جلد:5، صفحہ:331، رقم:113۔

د دې آيت د لوستلو سره د هغهٔ نه رُوح لاړو۔[1] ◈

خليفه هارُونُ الرَّشيد هم ډېر د رُعب او دبدبې والا بادشاه وو، کله چې د هغهٔ د مرګ وخت راغلو نو هغهٔ خپل کفن راوغوښتو او هغه يــې واړولو راواړولو او بيا بيا يــې ورته کتل، بيا يــې دا آيت ولوستو: [2]

| | |
|---|---|
| مَآ اَغْنٰى عَنِّىۡ مَالِيَهۡ ﴿۲۸﴾ هَلَكَ عَنِّىۡ سُلْطٰنِيَهۡ ﴿۲۹﴾ (پاره:29، سورۂ حَاقَّه:28، 29) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُالعِرفان: زما مال زما هيڅ په کار رانغلو- زما ټول زور ختم شو- |

◈ خليفه مُعتَصِم ډېر ظالِم او د سخت زړهٔ والا بادشاه وو، کله چې د هغهٔ اخري وخت راغلو نو دے په خپله بستره باندې پروت وو او لړزېدو او بيا بيا يــې وئيل: لَوْعَلِمْتُ اَنَّ عُمْرِیْ هٰكَذَا قَصِيْرٌ مَا فَعَلْتُ يعني که ما ته معلومه وے چې زما عمر دومره کم دے نو ما به بادشاهي نهٔ کوله- [3]

بے وفا دنیا پہ مت کر اِعتبار
تُو اچانک موت کا ہو گا شکار
موت آ کر ہی رہے گی یاد رکھ!
جان جا کر ہی رہے گی یاد رکھ!
موت آئی پہلواں بھی چل دیئے
خوبصورت نوجواں بھی چل دیئے
تیری طاقت تیرا فن عُہدہ ترا
کچھ نہ کام آئے گا سرمایہ ترا
گھپ اندھیری قبر میں جب جائے گا
بے عمل! بے اِنتہا گھبرائے گا

---

1 ... احیاء العلوم الدین، کتاب ذکر الموت ومابعدہ، الباب الخامس، جلد:4، صفحہ:582۔
2 ... احیاء العلوم الدین، کتاب ذکر الموت ومابعدہ، الباب الخامس، جلد:4، صفحہ:582۔
3 ... احیاء العلوم والدین، کتاب ذکر الموت وما بعده، باب فی کلام المحتضرین...الخ، جلد:4، صفحه:582 بتغیر۔

قبر میں تیرا کفن پھٹ جائے گا
یاد رکھ نازُک بدن پھٹ جائے گا
کرلے توبہ ربّ کی رحمت ہے بڑی
قبر میں ورنہ سزا ہوگی کڑی[1]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا نتیجه ده--!! د دُنیا طالبګارو دُنیا حاصله کړه، په دې کښې یې ژوند تیر کړو، عیش یې اوکړو، په اخري وخت کښې یې بیا نتیجه څۀ راوېستله: کاش چې مونږ دا نۀ کولے، کاش چې مونږ ته دُنیا نۀ مېلاؤېدے، کاش چې مونږ حبشي غُلامان وے، چېلۍ مو څَروَلے-

دا نتیجه ده، د دې نه دا نتیجه اخستلے کېږي چې په دې دُنیا کښې د ډوب شوو خلقو ژوند څنګه تېر شو، دا د هغوئي تجربې وې، د هغوئي د تجربو نتیجه څۀ راووتله؟ هُغه نتیجه حاصله کړئ- معلومه به شي چې دا دُنیا بے وفا ده-

## د دُنیا مثال د شلېدلې کپړې په شان دے

اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَثَلُ هٰذِهِ الدُّنْيَا مَثَلُ ثَوْبٍ شُقَّ مِنْ اَوَّلِهٖ اِلٰى آخِرِهٖ یعنې د دې دُنیا مثال د یوې کپړې په شان دے او کپړه هم هُغه کومه چې د سر نه تر اخره پورې پرېکړے شوې وي فَبَقِيَ مُتَعَلِّقًا بِخَيْطٍ فِي آخِرِهٖ فَيُوْشِكُ ذٰلِكَ الْخَيْطُ اَنْ يَّنْقَطِعَ بس په اخره کښې د یو تار سره انښتې وي ، نزدې ده چې دا تار هم وشلېږي-[2]

اَللّٰهُ اَكْبَر! څومره زبردست مثال دے، دا دُنیا په یو تار باندې ولاړه ده، لږه معمولي شانتې جټکه به دا تار وشلوي او مونږ به د قبر تیارو ته ورسېږو- چا شاعر ډېره ښکلې عکاسي کړې ده:

---

[1] ...وسائلِ بخشش، صفحہ:711،712 ملتقطاً۔

[2] ...موسوعه ابن ابي دنیا، کتاب قصر الامل، جلد:3، صفحه:332، حدیث:122۔

اِک یہ جہاں،اِک وہ جہاں، دونوں جہاں کے درمیاں

ہے فاصلہ اک سانس کا، گر آ گئی تو یہ جہاں، گر رُک گئی تو وہ جہاں

دا صرف يو تار خو دے، مختصر شان تار، کمزورے شان تار--!! چې څو منټه اکسيجن مېلاؤ نۀ شي نو ساه ودرېږي، بنده شي، مرګ راشي، بس هم د دې تار شلېدل دي، اِنسان د دُنيا نه رخصت شي- د دُنيا هم دا حقيقت دے-

## خپل اخري ساعتونه صحيح کړئ---!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! خبره د مالداره يا د غريب نۀ ده، پۀ مالدارۍ کښې هم هيڅ عيب نشته، غريب کېدل خو هسې هم د فضيلت خبره ده، پۀ حديثونو کښې د غريبانو فضيلتونه بيان شوي دي- خبره د اخري ساعتونو ده، ◈ آه! هُغه وخت کله چې به دا ټوله دُنيا د خپلو ټولو ښکلاګانو سره زمونږ د پاره د يوې پيسې برابر هم نۀ وي، ◈ کله چې به زمونږ د سترګو نه زمونړه بے وسي معلومېږي، ◈ ګاډے به پۀ ګېراج کښې ولاړ وي خو زمونږ به هيڅ د کار نۀ وي، ◈ پۀ بينکونو کښې پۀ لکونو روپۍ پرتې وي، خو زمونږ د څۀ کار نۀ دي، ◈ ځامن او لونړه مو ګېر چاپېره موجود دي، خپلوان راجمع دي، ډاکټران خپل پوره کوششونه کوي خو افسوس چې اوس څوک هيڅ هم نشي کولے، ◈ پۀ دې ساعت کښې زمونړه خپلوان، ناز ورونړکي هم وائي چې سُوره يٰسين شريف ولولئ! ساه به ترې پۀ اسانۍ سره وځېژي-

◈ آه! ملک المَوت عَلَيۡهِ السَّلَام تشريف راوړے دے، ◈ سترګې م چت ته ګوري، ساه مو پۀ مرۍ کښې انښتې ده، ◈ بيا يوه جټکه راغله، اخري سلګۍ راغله، ◈ يوه خنبه ساه مو واخسته او دا ټوله دُنيا، تقريباً د 51 کروړه مربع کلو ميټره دا زمکه د خپلې ټولې پراختيا باوجود پۀ مونږ باندې تنګه شوه-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا اخري ساعت به زمونړه څنګه تېرېږي؟ احساسات

به مو څۀ وي؟ جذبې به څۀ وي؟ هُغه وخت به زمونږ پۀ زړونو کښې ارمانونه څۀ وي؟ پۀ دې باندې غور کول پکار دي-

## چې شروع يې داسې ده نو انجام به يې څۀ وي

يو ځل اِمامِ حَسَن بصري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د يو مريض خوا له تشريف يوړلو، هُغه وخت د هغۀ ځنکدن شروع وو، اِمامِ حَسَن بصري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه چې يې حالت ته وکتل نو وه يې فرمائيل: د کومې معاملې شروع چې داسې وي نو د هغې د انجام نه وېرېدل پکار دي او د کومې انجام چې داسې وي نو د هغې د شروع نه ډېره کول پکار دي-(1) [يعني هغې له په نېکو اعمالو کولو تياري کول پکار دي]

## دوه ډېر اهم سفرونه

اَللّٰهُ اَکْبَرُ! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! واقعي چې ډېر عبرتناکه جُمله ده، ډېر ښکلې نصيحت دے، مونږه دوه سفرونه کوو، يو سفر خو اوس زمونږه جاري دے، مونږ پۀ دُنيا کښې يو، د ژوند ساه ګاني پوره کوو، ډېر زر به زمونږه دا سفر ختم شي، بيا به يو بل سفر شروع شي: **د اخرت سفر**- اِمامِ حَسَن بصري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه وائي چې خلقو--!! وګورئ! هُغه سفر کوم چې ستاسو د پيدائش نه شروع شوے وو، د دُنيا د ليدو سفر، پۀ دُنيا کښې د اوسېدو سفر، دلته د کور جوړولو، د عيش کولو سفر، آه! د سفر انجام ډېر عبرتناک دے، آه! هُغه اخري ساعتونه کله چې غرور کوونکے اِنسان، پۀ ځان باندې فخر کوونکے اِنسان، د خپلو صلاحيتونو کمالونه ښودونکے اِنسان د خپلې بے وسۍ پۀ انتها باندې وي- آه! خلقو--!! وګورئ چې دا ستاسو د عيش او عشرت انتهاد ده، دا ستاسو د ژوند د سفر انجام دے او آه! ډېر دردناک انجام دے-

---

1... احياء العلوم والدين، كتاب ذكر الموت ومابعده، الباب الخامس، جلد:4، صفحه:584 بتغير-

بيا غور اوکړئ چې دا د ځنکدن حالت دے، د دې نه د اخرت سفر شروع کيږي، آه! د کوم سفر شروع چې دومره دردناکه ده، آه! د رُوح د وتو يوه جټکه د تورې د 100 ګزارونو نه هم زيات تکليف ورکونکې ده[1] رُوح د وجود نه وتل داسې دي، لکه څنګه چې يوه ازغنه څانګه د مالوچو په ډيري کښې واچولے شي او په جټکه ترې بهر راښکلے شي[2] الله! الله! غور اوکړئ چې د کوم سفر شروع دومره دردناکه ده، د هغه سفر اخري منزل يعنې د حشر مېدان، بيا به په پل صِراط باندې تېرېدل څومره دردناک وي۔

## اعتبار د اخري ساعتونو دے

مونږ که په زرګونو کاله ژوند تېر کړو، زمونږ د ټول ژوند نچوړ به زمونږه په **اخري ساعتونو** کښې وي۔ په حديثِ پاک کښې ارشاد دے: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالۡخَوَاتِيۡم د اعمال دار او مدار په خاتمه باندې دے۔[3]

مونږ او تاسو د خپل اخري ساعت په دې دُنيا کښې څنګه تېروو، هغه ساعت به فېصله کوي چې مونږ کامياب شو او که ناکامه پاتې شو۔ خو افسوس چې مونږ ته معلومه نۀ ده چې زمونږه هغه اخري ساعت به کله راځي، کله به مونږ د دې دُنيا نه رخصتېږو، ځکه مونږ له پکار دي چې مونږ خپل ټول ژوند په نېک اعمالو کولو تېر کړو۔

## وېرېږئ---!! د واپس ګرځېدو د ورځې نه

په 3 سيپاره، د سورۀ بقره، په آيت: 281 کښې الله پاک فرمائي:

---

1... حلية الاولياء، جلد:8، صفحه:218، رقم:11934۔
2... موسوعه ابن ابي دنيا، كتاب ذكر الموت، جلد:5، صفحه:453، رقم:194۔
3... معجم كبير، جلد:3، صفحه:492، حديث:5666۔

وَاتَّقُوۡا يَوۡمًا تُرۡجَعُوۡنَ فِيۡهِ اِلَى اللّٰهِ ۚ
(پارہ:3، سورۂ بقرہ:281)

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُالعِرفان: او د هغه ورځې نه وېرېږئ په كومه ورځ به چې تاسو د الله طرف ته ګرځولے كېږئ-

د يو قول مطابق د دې آيت مبارک معنیٰ ده: اے اِيمان والؤ! وېرېږئ د هغه ورځې نه كله چې به تاسو دا دُنيا پرېږدئ او د اخرت په سفر باندې به روانېږئ-(1)

ہے یہاں سے تجھ کو جانا ایک دن | قبر میں ہو گا ٹھکانا ایک دن
منہ خدا کو ہے دِکھانا ایک دن | اب نہ غفلت میں گنوانا ایک دن
ایک دن مرنا ہے آخر موت ہے | کر لے جو کرنا ہے آخر موت ہے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! مونږ له پكار دي چې خپل هغه اخري ساعتونه هميشه خپلې مخې ته ساتو-

## بس صرف دوه حالتونه دي

وګورئ چې بس صرف دوه حالتونه دي، په دې كښې مونږ ته يو د ځان د پاره خوښول دي، فيصله زمونږه ده، منظر د دواړو ستاسو مخې ته ږدم:

د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روايت دے، سركارِ عالي وقار، مكي مَدَني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د ځنكدن په وخت د اِنسان خوا له فرښتے راځي، كه هغه ګس نېک وي نو فرښتے وائي: اے پاكه رُوحه! راووځه--!! ته په پاک وجود كښې اوسيدلې، اوس د تعريف لائق راووځه، ستا د پاره د سكون او خوشحالئ او د پاک رزق زېرے دے او دا هم چې ستا رَبّ ستا نه ناراضه نهٔ دے- فرښتے داسې وائي د دې پورې چې رُوح د تن نه

---

1 ... تفسیر قرطبی، پارہ:3، سورۂ بقرہ، زیرِ آیت:281، جلد:2، جز:3، صفحہ:419۔

جُدا شي- [1] (سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د مؤمِنانو نېکانو د رُوح پهٔ زوره د وېستو ضرورت نهٔ پېښېږي بلکې هغه د زېرې پهٔ اورېدو پخپله د وجود نه ووځي [2])

سرکارِ عالي وقار، د دوارو جهانو مالک او مختار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نور وفرمائیل: بیا د دې نېک اِنسان رُوح د اسمان طرف ته یوړے شي، د هغه د پاره د اسمان دروازې برسېره کړے شي، د اسمان فرښتے پوښتنه کوي: دا څوک دے؟ رُوح وړونکې فرښتے وائي: دا فلانکے دے- اسمان والا فرښتے وائي: مَرحَبَا! پاک رُوح کوم چې پهٔ پاک وجود کښې وو، راځه--! تهٔ د تعریف لائق یې، ستا د پاره د سکون او خوشحالۍ او د پاک رزق زېرے دے او دا چې ستا رَبّ ستا نه ناراضه نهٔ دے، د هر اسمان فرښتے هم داسې وائي د دې پورې چې هغه رُوح د **الله** پاک دربار ته حاضر کړے شي- [3]

د **الله** پاک خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل بیان لړۍ مخکښې بوتلله او نور یې وفرمائیل: او که چرې اِنسان بد وي نو فرښتے وائي: اے خبیثه رُوحه کوم چې پهٔ خبیث وجود کښې اوسېدلو، راووځه! راووځه--! تهٔ د مذمت او د ملامتیا حقدار یې، ستا د پاره د خوټکېدلو اوبو، د نوونو او د دې پهٔ شان د نورو عذابونو زېرے دے- فرښتے هم داسې وائي، د دې پورې چې رُوح د تن نه جُدا شي، بیا دا د اسمان طرف ته یوړے شي، د اسمان دروازې وډبولے شي، د اسمان والا فرښتے پوښتنه کوي: دا څوک دے؟ فرښتے وائي: فلانکے دے نو پهٔ دې باندې د اسمان والا فرښتے وائي: د دهٔ د پاره مَرحَبَا نشته، دا خبیث رُوح دے کوم چې پهٔ خبیث وجود کښې وو، واپس وګرځه ملامت شوے، دهٔ د پاره به د اسمان دروازې نهٔ برسېره کولے کیږي- بیا دا د اسمان نه راغورځولے کیږي د

---

[1]... ابن ماجه، کتاب: الزهد، باب: ذکر الموت، صفحه: 690، حدیث: 4262-

[2]... مرآة المناجیح، جلد: 2، صفحه: 448-

[3]... ابن ماجه، کتاب: الزهد، باب: ذکر الموت، صفحه: 690، حدیث: 4262-

دېِ پورېِ چې قبر (يعنې مقام سِجِّين کوم چې د 7 زمکو نه لاندې دے هلته) ورسېږي۔ [1]

دا دي دوه حالتونه: يو د **اخري ساعتونو** ښه تصوير دے، کله چې ځنکدن شروع شي، فرښتے زيري ورکوي ، د اِنسان پهٔ مخ باندې مُسکا خوره شي، هغه د خپل اخرت د اِنعامونو پهٔ ليدو خوشحاله شي او پهٔ خوشحالۍ خوشحالۍ د دې دُنيا نه رخصت شي، او که اِنسان خراب وي، ګنهګار وي، نو د هغه **اخري ساعتونه** ډېر سخت وي، فرښتے ورته عذابونه ښائي، ډېر پهٔ زور ترېنه رُوح اوباسي، د ځنکدن سختې پرې راځي او اِنسان پهٔ ارمان او غم کښې ډوب، د اخرت طرف ته روان شي۔

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د حديثِ پاک پهٔ رڼا کښې دواړه لارې زمونږ مخې ته دي، اوس فېصله زمونږه ده چې مونږ خپل **اخري ساعتونه** څنګه تېرول غواړو؟

## پرېږده مړه چې عېش اوکړو---!!

يو ځل حضرت مالِک بن دِينار رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د يو ځوان پهٔ خوا تېرېدو، هغه پهٔ ګناهونو کښې اخته وو، هغوئي د نېکۍ دعوت ورکړو او وه يې فرمائيل: اے اِنسانه! د **الله** پاک نهٔ وېرېږه! ګناه مهٔ کوه۔

هغه ډېر پهٔ غصه کښې ووئيل: اے مالِکه! پرېږده بس! ژوند پهٔ عېش کښې تېرولو ته مې پرېږدهٔ! هغوئي هغه پهٔ خپل حال باندې پرېښودو، کله چې د هغه کَس اخري وخت راغلو نو خلقو هغهٔ ته د کلمه طيبه وئيلو تلقين اوکړو، هغه ووئيل: زما د سر خوا ته يوه فرښته ولاړه ده او وائي: تا به د ژوند نه خوندونه اخستل، اوس به مونږه تا دَل دَل کړو[2]

اَللّٰهُ اَکۡبَر! دلته دا ماحول دے چې کله چا ته نصيحت کوې، د نېکۍ دعوت ورکوې نو بعضې وخت جواب مېلاؤېږي: پرېږدهٔ! مولانا صاحبه--!! څلور ورځې ژوند دے، چې مزې اوکړو!

---

1... ابن ماجه، کتاب :الزہد، باب:ذکر الموت ،صفحه:690، حديث:4262۔

2... موسوعه ابن ابی الدنیا، کتاب المحتضرين، جلد:5، صفحه:369، رقم:283۔

## د اخري ساعتونو تياري هم د اوس نه اوکړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا د مزو کولو وخت نهٔ دے، د عېش کولو وخت نهٔ دے، هم دا د درېو څلورو ورځو ژوند به فېصله کوي چې زمونږه اخري ساعت به څنګه تېرېږي، بيا به هم اخري ساعت دا فېصله کوي چې مونږ به پهٔ اخرت کښې څنګه راپاڅو۔ اِمامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د اِنسان مرګ پهٔ هُغه حالت باندې راځي، پهٔ کوم باندې چې ژوند تېروي او د قيامت پهٔ ورځ به هم پهٔ هُغه حالت کښې راپاڅولے کيږي پهٔ کوم باندې چې مرګ راغلے وي۔ (1)

## اللّٰه پاک چې د چا سره د ښېګړې اِراده وفرمائي

د حضرت اَنَس بن مالک رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:

اِذَا اَرَادَ اللّٰہُ بِعَبْدٍ خَیْرًا اِسْتَعْمَلَہٗ

ترجمه: کله چې اللّٰه پاک د بنده سره د ښېګړې اراده وفرمائي نو هغه پهٔ کار باندې ولګوي

پوښتنه اوکړے شوه: يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! هغه څنګه پهٔ کار لګولے شي؟ وه يـې فرمائيل:

یُوَفِّقُہٗ لِعَمَلٍ صَالِحٍ قَبْلَ الْمَوْتِ

هغه ته د مرګ نه مخکښې د نيکو توفيق عطا کړي۔ (2)

## جَنَّت ته د تللو اسانه نُسخه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! يو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

---

[1]... احياء العلوم (مترجم)، جلد:1، صفحه:507۔

[2]... ترمذی، کتاب القدر، باب ماجاء ان اللہ کتب... الخ، صفحہ:517، حدیث:2142۔

صحابۀ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان ته وفرمائيل:

اَكُلُّكُمْ يُحِبُّ اَنْ يَّدْخُلَ الْجَنَّةَ؟

آيا تاسو ټول جَنَّت ته تلل غواړئ؟

عرض يـې اوکړو: آؤ جي! يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! مونږ جَنَّت ته تلل غواړو- وه يـې فرمائيل: (بيا دا صفتونه اِختيار کړئ!)

قَصِّرُوا الْاَمَلَ وَاثْبِتُوْا آجَالَكُمْ بَيْنَ اَبْصَارِكُمْ وَاسْتَحْيُوْا مِنَ اللهِ حَقَّ حَيَائِهٖ

(1): خپل اُمېدونه کم کړئ! (يعني ډېري اوږدې اوږدې منصوبې مۀ جوړوئ!) (2): خپل مرګ د خپلو سترګو وړاندې کېږدئ! (3): او د **الله** پاک نه داسې حيا کوئ، لکه څنګه چې د حيا حق دے-[1]

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د نېک جوړېدو، د اخرت د تيارۍ کولو، د مرګ نه پس د ژوند ښه کولو، **د جَنَّت د حقدار جوړېدو دا 3 نُسخې دي:**

**وړومبۍ نُسخه:** خپل اُمېدونه کم کړئ--!! يعني ډېري اوږدې منصوبې مۀ جوړوئ، سبا به څۀ کيږي، بله ورځ به څۀ کيږي، بوډا والے به څنګه تيرېږي، د ماشومانو به څۀ کيږي، وغېره وغېره دا فکرونه پرېږدئ! پۀ دې فکرونو هيڅ نۀ کيږي، کيږي به هم هغه څۀ چې **الله** پاک غواړي- څکه خپل نن ښۀ کړئ! **د حضرت عون بن عبد الله** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **پۀ خِدمت کښې پوښتنه اوکړے شوه:** د مؤمِن بنده د ټولو نه فائده منده ورځ کومه يوه ده؟ وه يـې فرمائيل: **پۀ کومه ورځ چې به بنده د الله پاک پۀ دربار کښې حاضريږي او خبر شي چې الله پاک د هغۀ نه راضي دے-** عرض اوکړے شو: د دُنيا پۀ ورځو کښې د ټولو نه فائده منده ورځ کومه يوه ده؟ وه يـې فرمائيل: **د ټولو نه فائده منده ورځ هغه ده د کومې د ماښامه پورې**

---

[1] ... موسوعه ابن ابي الدنيا، كتاب قصر الامل، جلد:3، صفحه:310، حديث:31-

چې د ژوندي پاتې کېدو بنده اُميد نۀ لري-[1]

**دويمه نُسخه:** محبوبِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جَنَّتي جوړېدو دويمه نُسخه ورکړه، **فرمائي:** خپل مرګ هميشه د خپلو سترګو د وړاندې ساتئ! [2]

دا هم ډېره کمالي نُسخه ده، مونږ له پکار دي چې وخت پۀ وخت مرګ يادوو ◈ **پۀ حديثِ شريف کښې دي:** څوک چې د مرګ ياد بې قراره ساتي، هغه به خپل قبر د جَنَّت باغ مومي [3] ◈ د حضرت اَنَس بن مالِک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې نبي پاک، صاحب لولاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مرګ ډېر يادوئ ځکه چې هغه ګناهونه ختموي او د دُنيا نه بے رغبتي پيدا کوي. [4] ◈ حضرت دَقَّاق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: څوک چې مرګ ډېر يادوي هغه د **دريو خبرو** پۀ ذريعه عزت مومي (1): د هغۀ د توبې توفيق زر نصيب کيږي (2): د هغۀ د قناعت (***Serenity***)دولت نصيب کيږي او (3): پۀ عبادت کښې يـې چستي نصيب کيږي- **نور فرمائي:** چا چې مرګ هېر کړو، هغه به پۀ **3 خبرو** کښې راګېرولے کيږي: (1): پۀ توبه کښې پۀ ځنډ [يعني پۀ ناوخته کولو کښې] (2): د ضرورت مطابق رزق باندې نۀ راضي کېدل او (3): پۀ عبادت کښې ناراستي[5]

ځکه مونږ له پکار دي چې مونږ مرګ ياد ساتو، وخت پۀ وخت هديرې ته ځو، هلته د قبرونو پۀ حالاتو باندې غور کوو، دا سوچونه کوو چې يوه ورځ به زۀ هم دې قبر ته کوزېږم، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! پۀ ورو ورو به د مرګ ياد پۀ زړۀ کښې کښېني، چې دا سعادت نصيب شي نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! زمونږه کردار به ښه شي-

---

[1] ... موسوعه ابن ابي الدنيا، كتاب قصر الامل، جلد:3، صفحه:324، حديث:87-

[2] ... موسوعه ابن ابي الدنيا، كتاب قصر الامل، جلد:3، صفحه:310، حديث:31-

[3] ... مسند الفردوس، جلد:1، صفحه:357، حديث:1441-

[4] ... التذكره للقرطبى، باب ذكر الموت و الاستعداد له، صفحه:7-

[5] ... التذكره للقرطبى، باب ذكر الموت و الاستعداد له، صفحه:9-

**دريمه نُسخه:** خوږ آقا، رسولِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جَنَّتي جوړېدو دريمه نُسخه ورکړه، فرمائي: د **الله** پاک نه داسې حيا کوئ! لکه څنګه چې د حيا حق دے۔[1]

دا هم ډېر ښکلے نصيحت دے، د مثال په توګه ◈ اِنسان دروغ وائي، آيا هغه به دا غواړي چې مخامخ ګس ته د هغه د دروغو پته ولګي؟ نۀ يې غواړي، ګنې بيا به هغه وشرمېږي ◈ اِنسان په بدکارئ کښې اخته وي، آيا هغه به غواړي چې هغه څوک ووينې ◈ د سود کاروبار کوي، هغه به غواړي چې خلقو ته معلومه شي ◈ اِنسان په حرامو کارونو کښې مصروف وي، آيا هغه به غواړي چې څوک هغه ووينې؟ نۀ يې غواړي، ګنې هغه به وشرمېږي، په سپينه جامه به يې تور داغ ولګي، د خلقو په مخکښې به هُغه اِنسان رسوا شي۔ دا يو قِسم له د بندګانو نه حيا ده چې مونږ د خلقو په مخکښې د هغوئي بد نۀ بيانوو، بس هم دا سوچ کول دي چې که څوک مو ويني او که نۀ ويني، **الله** پاک خو مو ويني، څکه د هغه نه حيا کول دي او د دې سره د هغه نافرماني کول نۀ دي کول پکار۔ اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وئيلي دي:

| | |
|---|---|
| چُھپ کے لوگوں سے کیے جس کے گُناہ | وہ خبردار ہے کیا ہونا ہے |
| کام زِنداں کے کیے اور ہمیں | شوقِ گلزار ہے کیا ہونا ہے[2] |

کله چې مونږ د خلقو نافرماني نۀ کوو، بيا هم د خلقو نه شرمېږو نو د چا نافرماني چې کوو، د هغۀ نه ولې نۀ شرمېږو، هغه خو د هر پټ او ښکاره نۀ ښه خبر دے، د زړونو د حالاتونو نه هم ښه خبر دے، څکه پکار دي چې د رَبِّ کريم نه وشرمېږو۔

## يو ښکلے نصيحت

په دې باره کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو ډېر ښکلے

---

1... موسوعہ ابن ابی الدنیا، کتاب قصر الامل، جلد:3، صفحہ:310، حدیث:31۔

2... حدائقِ بخشش، صفحه:167 ملتقطًا۔

نصيحت واورئ! فرمائي: وَاسْتَحِ اللهَ اِسْتِحْيَاءَ رَجُلٍ ذِیْ هَيْبَةٍ مِنْ اَهْلِكَ يعني د **اللّٰه** پاک نه داسې حيا کوئ! لکه څنګه چې په خپل خاندان کښې د رُعب داره ګس نه حيا کوئ- (1)

داسې کيږي چې اِنسان غلط کار کوي، د پاسه پرې والِد صاحب راشي، د جومات اِمام صاحب تشريف راوړي، اِنسان فوراً ځان پټوي، غلط کار زر پرېږدي، مثلاً په موبائل باندې يـې څۀ ګنده ښيز کتلو، د پاسه پرې بابا جان راغلو، ځلمے زر موبائل بند کړي، هغه اخوا دېخوا د پټولو کوشش کوي، دا د هغۀ حيا ده، فرمائي: څومره چې د دې خلقو نه حيا کوئ، کم از کم هم هُغه همره حيا د **اللّٰه** پاک نه هم کوئ--!!

کاش چې دا ښه حيا زمونږه نصيب شي، اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِيم! د دُنيا سره سره به مو اخرت هم ښه شي-

**اللّٰه** پاک دې مونږ ته ټول ژوند په خاص توګه د ژوند د اخري ساعتونو په ښه، بهترينو او د نيکو نه د ډکو تيرولو توفيق راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## قابِلِ رَشک مرګ

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! خپله دنيا او آخرت ښائسته کولو، نيک نمونځ ګزاره جوړيدو او د **اللّٰه** پاک په فضل او کرم سره د قابِلِ رشک مرګ موندلو د عَزم سره د عاشقانِ رسول ديني تنظيم دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې شامل اوسئ! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اسلامي د عاشقانِ رسول په سلګونو داسې واقعات دي چې هغوئي ته قابِلِ رشک مرګ نصيب شوے دے ◈ د ډيرو عاشقانِ رسول قبرونه څو څو کاله پس [د بارانونو وغيره په وجه] کولاؤ شوي دي نو هلته خوشبوياني خورې وې ◈ يو قاري صاحب د سجدې په حالت کښې د دنيا نه رخصت شو ◈ داسې ډير دي کومو ته چې په آخري وخت کښې

---

1 … مسند بزار، جلد:7، صفحه:89، حديث:2642-

کلمه نصيب شوې ده ◈ يو اسلامي ورور ته د زړۀ دوره [هارټ اټيک] وشو، په هسپتال کښې داخل وو، په دې حالت کښې يـې هُم پرله پسې کلمه طيبه لوستله، په آخري وخت کښې يـې په اوچت آواز سره 12 ځله درود شريف اولوستو، 12 ځله يـې کلمه طيبه ولوستله او د دنيا نه رخصت شو ◈ هم داسې د مفتيِ دعوتِ اسلامي، مفتي فاروق عطّاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه قبر د بارانونو په وجه کولاؤ شوے وو، شرعي رهنمائي واخستلے شوه او د قبر دننه مَنظَر وکتلے شو نو اَلْحَمْدُلِلّٰه! د مفتي صاحب [بدن]، کفن، تر دې چې په سر مبارک باندې تړلې شوې عِمامه شريف يـې هُم بلکل صحيح سلامت وه-

| | |
|---|---|
| تِرا شکر مولا دیا دینی ماحول | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا دینی ماحول |
| قیامت تلک یاالٰہی! سلامت | رہے تیرے عطاؔر کا دینی ماحول (1) |

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! تاسو هُم د عاشقانِ رسول ديني تنظيم دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې شامل اوسئ! څه معلومه ده چې په مونږ هُم کرم وشي او مونږ ته هُم قابِلِ رشک مرګ نصيب شي-

| | |
|---|---|
| خُدایا بُرے خاتمے سے بچانا | پڑھوں کلمہ جب نکلے دَم یااِلٰہی! (2) |

## د دعوتِ اِسلامي د شعبه مدرسةُ الـمدينه بالِغان پيژنګلو

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د عِلم د نُور تقسيمولو، په مختلفو ذريعو د عِلمِ دِين د فيضان په عام کولو کښې مصروف دے- هم په دې ذريعو کښې يوه ذريعه مدرسةُ الـمدينه بالِغان هم ده-

---

[1]...وسائلِ بخشش، صفحہ:648-674ملتقطاً۔

[2]...وسائلِ بخشش، صفحہ:110۔

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي د مدرسةُ الــمدينه بالِغان پۀ ذريعه د قرآنِ کريم د زده کولو بهترينه موقع ورکوي- دا شعبه روزانه ◈ جوماتونو ◈ مارکيټونو ◈ سکولونو ◈ کالجونو او پۀ نورو **زرګونو ځايونو** کښې د زيات عمر **پۀ لکونو اِسلامي ورونړو او اِسلامي خوئيندو** ته د قرآنِ کريم تعليم ورکوي- د دې شعبې پۀ ذريعه ◈ د صحيح تجويد او قراءَت سره قرآنِ کريم لوستل ښودلے کيږي ◈ فرض علوم هم ښودلے کيږي ◈ سُنَّت او اداب هم ښودلے کيږي ◈ د ترجمې او د تفسير د اوريدو موقع هم ميلاوېږي ◈ مختلفې دُعاګانې ښودلے کيږي ◈ د درس او د بيان طريقه ◈ د مسئلو ښودلو سره سره د **الله** پاک نه د وېرې او د عشقِ رسول د نمونې جوړولو کوشش هم کولے شي- تاسو هم پۀ مدرسةُ الــمدينه بالِغان کښې داخله واخلئ! اِنْ شَآءَالله الْكَرِيم! د دِين او د دُنيا بے شمېره خېرونه به مو نصيب شي- ستاسو د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلے بيانووم-

## د نــمونځونو پابند شو

د يو اِسلامي ورور بيان دے چې دِيني ماحول ته د راتلو نه مخکښې به زۀ د لوفرانو دوستانو سره ګرځېدم او فضول کارونه کول زما معمول وو- يو ځل د يو اِسلامي ورور سره زما ملاقات وشو- د سلام او لاسونو ميلاوهلو نه پس پۀ خبرو کښې هغه ما ته پۀ مدرسة الــمدينه (بالغان) کښې د شرکت کولو دعوت راکړو او ورسره يــې د دې فائدې هم بيان کړې، ما اِراده اوکړه او پۀ مدرسة الــمدينه کښې مې شرکت شروع کړو- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دې پۀ برکت د دِيني ماحول سره د تړون لرلو پۀ وجه زۀ د نــمونځونو پابند شوم، خو لا مې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښکلې سُنَّت عمامې شريف پۀ سر کولو ذِهن نۀ وو جوړ شوے- اخر د يو اِسلامي وور پۀ پوهه کولو مې عمامه هم پۀ سر کړه، د عمامې شريف پۀ سر کولو پۀ ټول کور کښې هم زما د ډاډګيرنې والا څوک نۀ وو- يوه شپه مې د سپينو جامو او عمامې والا يو بزرګ پۀ خوب کښې زيارت اوکړو، ما ته معلومه

نۀ وه چې دا څوک دے، پۀ خوب کښې را ته چا ووئیل چې دا امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دے، هغوئي پۀ خپلو مبارکو لاسونو باندې زما پۀ سر باندې عمامه پۀ سر کېښوده، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د هغې نه پس زما پۀ زړۀ کښې د پیر او مُرشد محبت نور هم زیات شو- د دِیني ماحول پۀ برکت اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د دِیني کارونو پۀ ذریعه د دِینِ اِسلام پۀ خِدمت کښې مصروف یم-

| | |
|---|---|
| یہاں سُنّتیں سیکھنے کو ملیں گی | دِلائے گا خوفِ خدا دینی ماحول |
| تُو آ بے نَمازی، ہے دیتا نمازی | خدا کرم سے بنا دینی ماحول |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## نیک اعمال موبائل ایپلي کېشن

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د نیک جوړېدو او د نیکو اعمالو د زیاتولو د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډیپارټمنټ یو موبائل ایپلي کېشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې **نیک اعمال** ***(Naik Amal)*** دے- دا ایپلي کېشن پۀ خپل موبائل کښې انسټال کړئ، پۀ دې ایپلي کېشن کښې د اسلامي وروڼو، اسلامي خوئیندو او طالب علمانو د پاره بیله، بیله رِساله موجوده ده ◈ دا پۀ 6 مختلفو ژبو ◈ انګلش ◈ اُردو ◈ هندی ◈ بنګالی ◈ ګجراتی او ◈ سندهی کښې استعمالېدے شي ◈ پۀ دې کښې پۀ مختلفو نیک اعمالو باندې مشتمل سوالونه ورکړے شوي دي ◈ د هر سوال لاندې 30 خانې دي، هره ورځ د خپلې خوښې څۀ وخت مقرر کړئ او د خپلو اعمالو جائزه واخلئ، د دې مطابق ژوند تېروئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د دې پۀ برکت به د ګناهونو نه د بچ کېدو او د نیکو کولو ذهن جوړېږي، د زړۀ صفا والے به نصیب کېږي او کردار به مو صفا سوتره، ښکلے کېږي-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! يو څو ضروري اعلانونه واورئ: ◈ د هر خالي پهٔ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ مَدَني چينل لائيو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکي خالي پهٔ ورځ به هم پهٔ مَدَني چينل د ماسخوتن د نـمونځ نه پس (تقريباً پاؤ کم لس بجې) اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پهٔ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت اوکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ◈ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې ديني رسالې لوستلو ترغيب ورکوي، پهٔ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله د احياء العلوم نه 38 مدني ګلونه (قسط: 1) اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر کړي! ◈ مکـتبة الـمدينه د الحاد او دهريت پهٔ رد باندې مشتمله پهٔ زړونو کښې د الله پاک د محبت او د عظمت زياتولو د پاره يو ډېر ښکلے کتاب پهٔ نوم د: **ربّ کی عظمت** چاپ کړے دے- دا کتاب د مکـتبة الـمدينه د يوې څانګې نه پهٔ 750 روپی پهٔ بيعه حاصل کړئ-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بيان پهٔ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه زما

سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به په جَنَّت کښې زما سره وي- [1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جَنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## په کور والؤ باندې خرچ کول د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

**د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامين مبارک دي: (1)**: د قيامت په ورځ باندې به د عمل په تَله باندې د ټولو نه وړومبے د بنده په خپل کور والؤ باندې خرچ کړے شوے مال کېښودے شي- [2] **(2)**: څوک چې د ثواب په نيت باندې په خپل کور والؤ باندې خرچ کړي نو دا د هغۀ د پاره صدقه ده- [3]

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** په کور والؤ باندې خرچ کول د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي ◈ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په خپل کور والؤ باندې خرچ کولو ◈ د حديثِ پاک مطابق د هجرت نه پس يو وخت داسې هم راغلو چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د خپل کور والؤ د پاره د ټول کال غَلّه جمع کوله- [4]

د دې حديثِ پاک لاندې د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه چې کومه شرح بيان کړې ده، د هغې خُلاصه دا ده چې دا يعنې د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول کال د پاره غَلّه جمع کول، د بنو نُضَير د قلعې فتح کولو نه پس خبره ده- دا هم ياد ساتئ چې حضور، جانِ کائنات صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به اکثر چې د ټول کاله غَلّه جمع کوله خو د اُمَّت پاکو مئيندو رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُن به په کثرت

---

[1] … تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

[2] … معجم الاوسط، جلد:4، صفحه:329، حديث: 6135۔

[3] … مسلم، كتاب:الزكاة، صفحه:502، حديث:1002۔

[4] … احياء العلوم، كتاب: توحيد، جلد:4، صفحه:343۔

سره صدقه او خيرات کولو، د ټول کال غَلّه به زر ختمېدله او نوبت به لوږو ته رسېدلو۔ [1]

بھوکے رہتے تھے خود اوروں کو کھلا دیتے تھے | کیسے صابر تھے مُحَمَّد کے گھرانے والے

د رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول کال غَلّه جمع کول دې د پاره دي چې دا عمل د اُمَّت په حق کښې سُنَّت جوړ شي، ځکه چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کور والا د کمزوري زړه والا نه وي (بلکې هغوئي په الله پاک باندې کامِل باور لرونکې وې)۔ [2]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د بهارِ شريعت جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله 550 سنتیں اور آداب واخلئ او وه يـې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خدا | چاہیئے گر تمہیں قافلے میں چلو
گر مدینے کا غم چاہیئے چشمِ نَم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو [3]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... مرآۃ المناجیح، جلد: 5، صفحه: 949۔

[2]... احیاء العلوم، کتاب: توحید، جلد: 4، صفحه: 343۔

[3]... وسائل بخشش، صفحه: 669۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاک او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [یعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِکْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوک هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمعې او زیارت پهٔ مینځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شریف پهٔ پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ پهٔ وخت کښې د مَدَني آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې مَدَني آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبر ته د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي. [1] راځئ چې مونږ هم پهٔ شریکه دا دُرُود ووائیو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سَیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې مَدَني تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي که ولاړ وي نو د کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وي نو د ودریدلو نه مخکښې به د هغهٔ ګُناهونه مُعاف کړے شي. [2] راځئ چې مونږ هم پهٔ شریکه دا دُرُود ووائیو.

---

[1]... اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه: 151، خلاصةً۔

[2]... اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه: 65۔

## ﴿3﴾د رَحمت اويا دروازې:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي پهٔ هغهٔ به د رَحمت اويا دروازې برسيره کړے شي. (1) راځئ چې دا دُرُود هُم پهٔ شريکه ووائيو.

## ﴿4﴾د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: د دې دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو (6) لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي. (2) راځئ چې پهٔ شريکه يې ووائيو.

## ﴿5﴾ د خوږ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قُرب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، پهٔ دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوک اوچتې مرتبے والا دے! چې کله هغه لاړو نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: دے چې کله پهٔ ما باندې دُرُودِ پاک لوَلي نو داسې يې لوَلي. (3) راځئ چې مونږ يې هُم پهٔ شريکه ووائيو.

---

1...قَوْلُ البَدِيْع، باب ثانى، صفحه:277۔

2...اَفْضَلُ الصلاة، صفحه:149۔

3...قَوْلُ البَدِيْع، باب اَوَّل، صفحه:125۔

## ﴾6﴿ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوک چې داسې دُرود شريف ولوَلي، د هغهٔ د پاره زما شفاعت واجب شي. (1) راځئ چې دا دُرُود هُم پهٔ شريکه ووائيو.

## ﴾1﴿ د يو زر [1000] ورځو نيکئ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

د حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمَا نه رِوايت دے چې مَدَني آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے د يو زر [1000] ورځو پورې نيکئ ليکي.(2) راځئ چې مونږ يې هُم پهٔ شريکه ووائيو.

## ﴾2﴿ داسې ده لکه شبِ قدر يې چې حاصل کړو

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې دا دُعا درې ځله ولوستله نو لکه هغهٔ چې شبِ قدر حاصل کړو- 3 راځئ چې مونږ هُم دا دُعا پهٔ شريکه ووائيو-

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِیْمُ الْكَرِیْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

(د حِلم او کرم کوونکي **الله** پاک نه علاوه هيڅوک د عبادت لائق نشته، **الله** پاک دے، د اووهٔ اسمانونو او د عظمت والا عرش رَبّ)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...الترغيب والترهيب، كِتَابُ الذِّكْر والدُّعَا، جلد:2، صفحه:329، حديث:30-

2...مَجْمَعُ الزَّوائِد، كِتَابُ الْاَدْعِيَه، جلد:10، صفحه:254، حديث:17305-

3...تاريخ ابنِ عساكر، 155/19، حديث:4415